بسم اللہ الرحمن الرحیم

سریال نمبر: 201

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ضلع خیبر: د امنیتي ځواکونو بریالي عملیات یو تروریست ووژل شوی او ډیر مطلوب ترهګر ونیول شو

د خیبر ضلعې جمرود (سرکمر) کې ګمارل شوي امنیتي اهلکارو په وخت د ترهګرو خوځښتونه په ګوته کړل او محاصره یې کړل د سختو ډزو په تبادله کي یو ترهګر وژل شوي او بل ترهګر د وسلو او مهماتو سره نیول شوي۔





**نیول شوي ترهګر د ځانمرګو بریدونو د روزنې او پلان جوړولو په ګډون په ګڼو ترهګریزو فعالیتونو کې لاس درلود، په بریالیو عملیاتو کې یو امنیتي افسر هم شهید شوی دی۔**

په نزدو ورزو کي د پیښور سره په پوله واقع ضلع خیبر کي د سیکیورټي ادارو له اړخه د ترهګریۍ پر ضد ګامونه پورته کړي شوي چي له کبله یۍ کامیابي ترلاسه کیږي او بل اړخه ته امنیتي ځواکونو د میړانی او بهادري مظاهره کړي او اپریشن یۍ په بریا سره سر ته رسولې۔